# ارین – اریانه ویجه – اریک

- ارین څوک دي، دوی کومه ژبه وئیله او په کومه سیمه کښي اوسېدل. دا درې مهمي پوښتني دي چي د زموږ د تاریخ تعین، د ژبې لرغونتیا او د کلتور اساس ټاکي.
- په دې اساس د دې دریو پوښتنو ځوابونه په لنډډول وړاندي کوو چي د پښتو د اریایي کورنۍ سره تړون تر پلټنه لاندي ونیسو.

- تاریخي اسناد د دې خبرې شاهدي ورکوي چي د اریایي قبایلو لومړی ټاټوبی بلخ او د هندوکش دواړه خواوي دي او له دغه ځایه په لومړي ځل هندي اریایي قبایلو د ختیځ او ایراني اریایي قبایلو ورپسې د لویدیځ خواته مهاجرت وکړ او له دغه ځایه اریایي قبایل په دریو ډلو کښي ووېشل سو.

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- مرکزي یا باختري ارین:

دا د ارینو هغه ډله ده چې پر خپل لرغوني ټاټوبي باندي پاته سول، چې د محققینو په اند دا ښتانه دي.

- هندي ارین

دا هغه ارین دي چې له اریانه ویجه څخه یې د هند و سیمو ته کوچ وکړ او هلته یې ویدي مدنیت جوړ کړ.

- ایراني ارین

دا هغه ارین دي چې د ایران پر خوا باندي وکوچېدل ا

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- د اریایانو د عصر په اړه وئیل کیږي: د ۲۵۰۰ ق م په شاوخوا کي د اریایي سپین پوستو انسانانو یو لوی جمعیت په اریانا ویجه نومي هېواد او د امو په شمالي غاړو کي کوچي توب او د مالداری ژوند تیراواه او چي شمیر یې زیات سو نو د امو جنوبي سیمو او د باختر ورشو ته راو ختل او د هندوکش په شمالي او جنوبي لمنو کي میشته سول.

- د دې خلکو د نفوسو او قبیلو د زیاتوالي په سبب لمر ختیزي خوا ته هجرت وکړئ او د سند له سنیده د هند شمالي ارتو سیمو ته تیر سول، او په هغه مځکه کي یې یو مدنیت جوړ کړئ، چي د (ویدا) په پخوانیو څلورو کتابو کي یې انکاس لیدل کیږي .

- دا په ۱۴۰۰ ق م په شاوخوا کي موجود وو.

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- اوس د ارین اصطلاح ریښه څېړو چي په اریایي او پښتو ژبو کښي څه مانا لري:
- ارین:

د (ار) له ریښي څخه وتلي اصطلاح ده چي مانا يې نجیب، اصیل یا کروندهګر ده. او په پښتو ادب کښي (اره) د اصل او بنسټ یا کرهڼي (کرنه) په مانا راغلي ده چي په پای کي د نسبتي (ن) له لګولو سره (ارین) ځیني جوړ سوی، او د اصیل یا شریف کروندهګر مانا يې موندلې ده.

- اریه ورشه
- هندي مهاجرو اریایانو خپلي پخواني مځکي ته اریه ورشه (ورته) ویل او په کندهار کي تر اوسه د ځمکي ارتې مځکي ته (ورشو) وائي، چي د لرغونو اریایانو د څاروي پالني او کوچي توب د ژوند سره بېخي زیاته اړه لري.

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- اریانا ویجو / اریانه ویجه : (Aryana - Vaego)

اریایان تر خپریدلو او ډیریدلو د مخه په یوه ځای کي اوسیدل، چي دوی په خپله پخوانۍ ژبه اریانه ویجو بلله، یعني د اریا مځکه یا د اصیلانو او نجیبانو او پاکزادانو هیواد.

- د ارینو هجرت / لیږدیدنه :

کله چي دوی په اریانه ویجه کښي تنګ سول، او د استوګني لپاره ګزاره ګرانه سوه، له دي سره اریایي توکم / نسل له هغي مځکي څخه لیږدنه وکړه، د دغه لیږدیدنه (کوچ) زمانه څلور زره کاله ق م تخمین کیږي.

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- ❖ اریانه ویجه

اریانه ویجه چې په پښتو کې تر اوسه د ټاټوبي او د استوګنې د ځکې په معنا مستعمله ده، د تاریخ د پوهانو په قول د د پامیر سیمې دي.

- ❖ اریک

داکټر ګوستاو لوبون هغه اریایي لرغونې ژبه چې په اریانه ویجه کښې وئیل کېدله د اریک په نامه باندي یاده کړه.

- ❖ ډاکټر پي ګېلز(P. Giles)

د کېمبرج پوهنتون د مقایسوي فیلالوژي پروفیسر د دغو اریایي اقوامو په باب داسي معلومات راکوي

# ارین – اریانه ویجه – اریک

- **هندو اریایي**

هندو اریایي نوم پر اریایي اقوامو او ژبو تر ټولو مخه دوکتور تهوماس ینګ (Dr. Thomas Young) ایښی دی.

- **هندو ژرمانیک**

او د هندو ژرمانیک اصطلاح تر ټولو د مخه په ۱۸۲۳ کال یوه جرمني ژبپوهاند کلپپروت (Klapproth) باب کړه.

# ارین – اریانه ویجه – اریک
# افغانستان: د اریایي ژبو ځانګو / لوی میوزیم

- د لویدیز – ختیځپوهانو کښي او په تیره بیا مورګن ستیرنې دا خبره هم کوله چي افغانستان د قومونو ، ژبو او فرهنګونو یو لوی میوزیم دی.
- په دې وطن کي کم یا زیات ۲۳ بیلابیلي ژبي ویل کیږي، چي ځیني یې د تري تم کیدو په حالت کي دي.
- تاسي باید زر تر زره دا ژبي ثبتي کړئ، فولکلوري ادب یې راغونډ کړئ، ګرامرونه او لغتنامې یې ولیکئ او خوندي یې کړئ.

*ډاکتر محمد رحیم د پښتو او پښتانه د ژبپوهني په رڼا کښي – کتاب باندي یوه لنډه یادونه*